Llywodraeth Cymru
Welsh Government

Llinell Gymorth Byw Heb Ofn
Live Fear Free Helpline
0808 80 10 800
ffôn • tecst • sgwrsio byw • ebost
call • text • live chat • email



# اوس د بکارت معاینه او د بکارت پردې ترمیم غیر قانوني دي

د روغتیا او پاملرنې قانون 2022 له مخې، د انګلستان په هره برخه کې اوس دا غیر قانوني ده چې د بکارت معاینه یا دبکارت د پردې ترمیم تر سره، وړاندیز یې وشي، مرسته ورسره وشي یا ورته هڅونه وشي.

**د بکارت معاینه یا د بکارت پردې ترمیم د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالي بڼې دي، او د "ناموس له مخې" د ناسم چلند بڼې دي.**

ښځې او نجونې دې ته اړ شوي، مجبورې شوي او شرمېږې چې د دې کړنلارو سره مخ شي، تر څو هغه شرایط پوره کړي چې یوه ښځه له واده څخه مخکې "پاکه" پاتې شي.

په هر حال، داسې پېژندل شوې معاینه نه شته چې کولای شي ثابته کړي ایا یوه ښځه باکره ده که نه.

شونې ده دا کارونه سپکاوي کوونکي او مزاحمت کوونکي وي. دا د سختې رواني صدمې لامل ګرځېدای شي او د اندېښنې، ډیپریشن او له صدمې وروسته فشار اختلالاتو په څېر حالات پیدا کولای شي. شونې ده په فزیکي ډول زیان رسوونکي وي.

دا کارونه عموماً د بندو دروازو له شا تر سره کېږي.

د دا ډول کړنو قربانیان ډېر ځله کلونه وخت نیسي چې بیا رامخکې شي. له دې امله چې دا کار غیر قانوني دی، ښځې ورسره موافقه **نه شي** کولای.

د 2022 کال د جولای له میاشتې راهیسې، دا ډول سرغړونې د 5 کلونو بندي کېدلو او/یا تر ټولو زیات غرامت لوړې سزاوې لري.

موږ غواړو قربانیانو او ټولنو ته دا څواک ورکړو تر څو ښځې، نجونې او هغه خلک خوندي کړي چې په ویلز کې د دا ډول کارونو د زیان له ګواښ سره مخ وي.

**که ته خپله، یا د داسې چا په اړه د دې اندېښنه لرې چې پېژنې یې چې د بکارت د معاینې یا د بکارت پردې د ترمیم له ګواښ سره مخ ده، نو د خپلو اندېښنو په اړه راپور ورکولای شې او کولای شې له لاندې برخو څخه مشوره یا مرسته تر لاسه کړې:**

**پولیس:** په بېړني حالت کې **999** یا ستا د سیمه ییز څواک لپاره **101** که قرباني د سملاسي خطر سره نه وي مخ.

**مستقیم بې وېرې مرستندویه کرښه:** 0808 80 10 800

**BAWSO:** 0800 731 8147

**KARMA NIRVANA:** 0800 5999 247

**د جبري واده واحد**

ستا سیمه ییز عمومي ډاکټر، رنځورپال، روغتون، ځانګړو خدماتو یا زده کړې مهیا کونکی.

OGL © Crown copyright 2022 د ویلز حکومت، WG45900